# ۲: پلاټ

لکچر: پوهنمل مصطفی صفا



# د پلاټ ارزښت:

- د ناول د هنریت لومړی ثبوت د پلاټ سم ترتیب دی. ښه پلاټ د ښه ناول ځانګړنه ده.
- په عامو ناولونو کې کیسه موجوده وي او اکثره وخت ښه کیسه وي، خو پلاټ پکې نه وي.

- په ناول کې پلاټ د خاصو لوستونکو لپاره وي. د عامو لوستونکو لپاره دا اهمیت لري، چې په دې پوه شي چې له «احمد» سره څه وشول؟ خو د خاصو لوستونکو لپاره دا ډېر ارزښت لري چې له «أحمد» سره ولې داسې وشول؟ دا «ولې» د هنر هغه کمال دی چې د لوستونکو په اذهانو کې بدلون راولي.



# د پلاټ تعریف:

- ❑ پلاټ د علت او معلول پر اساس د پېښو نه شلېدونکي تړاو ته وايي چې مرکزي کرکټر ته د اوج تر پړاوه د ژر رسېدو مخینوی کوي.
- ❑ (د علت او معلول تړاو یعنې دا چې هره پېښه د مخکینۍ پېښې معلول او د راتلونکي پېښې علت وي.)
- ❑ په بل عبارت؛ د ناول پېښې باید نه یوازې د مخکنیو پېښو له سببه رازیږېدلې وي، بلکې د نورو پېښو د منځ ته راتګ سبب هم شي.



# د پلاټ او کیسې توپیر:

- عوام کیسه او پلاټ یو شی ګڼي، خو د دې دواړو ترمنځ توپیر شته.
- کیسه بیان ته ویل کېږي، خو پلاټ د کیسې هنري بیان ته ویل کېږي.
- «پاچاه مړ شو او بیا ملکه مړه شوه.» دا یوه کیسه ده، «پاچاه مړ شو او د هغې د مرګ په غم کې ملکه مړه شوه.» دا پلاټ دی.
- کیسه په عمومي ډول څه شول؟ له چا سره وشول؟ چېرې وشول؟ ته ځواب وايي او پلاټ بیا ولې وشول؟ او په څه سبب شول؟ پوښتنې ځوابوي.



# د جوړښت له پلوه د پلاټ ډولونه:

# (منظم پلاټ) او (نامنظم پلاټ)

۱: منظم پلاټ هغه دی چې د کیسې ترکیبي اجزا یو په بل کې داسې نغښتي او غوټه شوي وي چې کمزوري او جلاوالی نه پکې لیدل کېږي، یا په منظم پلاټ کې د ناول ټولې پېښې نه یوازې دا چې سره تړلې وي، بلکې لازمې او ملزومې هم وي.

۲: نامنظم پلاټ هغه دی چې ترکیبي اجزا په داسې بېلابېلو پېښو ولاړ وي چې منطقي اړیکې پکې ډېرې لږ یا کمزورې وي.

په یو شمېر ناولونو کې دغه چاره هغه وخت تکرار شوې ده، چې کله ناول اوج ته رسېدلی وي او لیکوال غواړي، چې ځینې نورې پېښې هم ور اضافه کړي. دغه اضافات ډېر کله د ناول پر داستان سرباری ښکاري. په ناول کې دغه سرباری اصلاً منظم پلاټ ته د لیکوال نه پاملرنې له امله وي.




د مشهور ایراني لیکوال «محمود دولت آبادي» د «کلیدر» ناول پر پلاټ یوه نیوکه دا شوې چې د زیاتو فرعي صحنو او پېښو په راوړلو سره د اطناب او اوږدوالي په خوا تړې تللی دی.

د پرتگالي لیکوال «ساراماگو» د «ړوندتیا» ناول د پلاټ له امله ډېر ستایل شوی چې ټولې پېښې یې یو له بله زیږېدلې او تر پایه په منطقي او هنري ډول غځېدلې دي.





# د کیسې له پلوه د پلاټ ډولونه:

# (ساده پلاټ) او (پېچلی پلاټ)

۱: ساده پلاټ هغه دی چې یوازې پکې یوه کیسه پرمخ روانه وي او هغه خپلې پایلې ته رسېږي.

په ساده پلاټ کې ټولې پېښې پر یوازې یوه کرکټر راڅرخي.

د همینګوې «بوډا او سیند» او د ساموئېل بېکېټ «مالون مري» ناولونه ساده پلاټونه لري.

۲: پېچلی یا مرکب پلاټ هغه دی چې مرکزي کیسې او پېښې ته نورې فرعي پېښې هم ورګډې کړای شي او مرکزي کیسه او پېښه پرې نوره هم پیاوړې او پېچلې شي.

د ناول لیکونکي باید دې ته پام وي چې دغه فرعي پېښې او کیسې ورڅخه دومره اوږدې او زورورې نه شي، چې مرکزي کیسه پرې پیکه او محدوده شي.

په نړیوالو ادبیاتو کې د «ایډګار آلن پوه» زیاتره داستانونه، پېچلي پلاټونه لري.



# د پلاټ د ترتيب ډولونه:

يو ساده پلاټ په عمومي توګه پينځه برخې لري:

- په لومړۍ برخه کې يې د ټولو کرکټرونو معرفي وړاندې کېږي.
- په دويمه برخه کې د کرکټرونو تر منځ غوټې رامنځ ته کېږي.
- په درېيمه برخه کې دا غوټې نورې هم پېچلې کېږي.
- په څلورمه برخه کې د دې غوټو پرانيستنه کېږي.
- په پينځمه برخه کې ستونزه له منځه ځي او کيسه پای ته رسېږي.

(دا يو ساده ترتيب دی، ښايي له مبتدي ليکوال سره مرسته وکړي، خو د پلاټ ډېره استادانه او ماهرانه طرحه يې نه شو ګڼلی.)

# د پلاټ لپاره یو بل ترتیب:

۱. (د کیسې پیل): دلته زمان او مکان ټاکل کېږي، کرکټرونه د هغوی اهداف او اساسي لانجه معرفي کېږي.

۲. (پاروونکی ځواک): داسې پېښه رامنځ ته کېږي چې کیسې ته حرکت ورکوي.

۳. (کړکېچونه): داسې ټکرونه پېښېږي چې د لانجې هوارول لا ستونزمنوي. کیسه جذابه کوي او تلوسه او اندېښنه زیاتوي.

٤. (اوج): د کیسې تر ټولو ستره ستونزه رامنځ ته کېږي او د ناول اساسي لانجه حلېږي.

۵. (ځوړ): د کیسې ګونګې برخې روښانه کېږي.

٦. (نتیجه ګیري): د کرکټرونو د ژوند وروستی حالت او برخلیک ښیي.

# د پلاټ یو غوره او نوی ترتیب:

۱. د کیسې پیل له پاروونکي ځواک یا انګېزمنې پېښې کېږي، یعنې له داسې عمل څخه چې د کیسې وزرونه په حرکت او خوځېدو راولي، یا کیسه له ځمکې پورته کوي.

۲. د کیسې په پیل کې ستونزې راولاړېږي او د منځنۍ برخې تر پایه په دوامداره توګه لوېږي. دې ته کړکېچونه وايي چې د لانجې حل نور هم پېچلی کېږي.

۳. د کیسې په لړ کې کرکټرونه له تر ټولو سترې یا وروستۍ پېښې سره مخ کېږي. دې پړاو ته د کیسې اوج وايي.

۴. کله چې کیسه تر اوج واوړي، لیکوال ځینې هغه خبرې چې لوستونکي ته ګونګې پاتې وي روښانه کوي. دې برخې ته د کیسې ځوړ وايي.

۵. کله چې د کیسې د تېرې برخې هرڅه روښانه شول، نو یوازې د دې جوتېدل پاتې کېږي چې د کیسې اصلي کرکټرونه وروسته له ټولې سترړیا اوس څه ډول ژوند لري، دې ته نتیجه ګیري وايي او داستان پای ته رسېږي.

# له پاملرنې مو مننه

